2015-11-01

Naturvetenskapsprogrammet



# د طبیعي علومو پروګرام

Skolverket

Utbildningsinfo

PASHTO

**د طبیعي علومو پروګرام لوړو زده کړو ته د چمتووالي پروګرامونو د جملې څخه دی چې لوړو زده کړو ته د چمتووالي برې لیک ترلاسه کولو ته زمینه برابروي.**

نومـوړی پروګـرام د هغـو کسـانو لپاره ترتیـب شـوی څـوک چـې د د طبیعـي علومـو پـه برخـه کې کار کولـو سـره لیوالتیـا لـري. دا دوره پـه پوهنتـون کې د طبیعـي علومو، ریاضي، تخنیـک او ټولنیزو علومـو پـه ډګـر کـې د لـوړو زده کړو لپـاره اسـاس جوړوي.

## دوه بېلابېلې څانګې

### طبیعي علوم

- تاسو به د بیالوژي، فیزیک، کیمیا او ریاضي مضمونونو په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

### طبیعي علوم او ټولنه

- تاسو به د طبیعي علومو، ټولنیزو علومو او جغرافیې مضمونونو په اړه پوهه ترلاسه کړئ.

### تاسو په دې پروګرام کې لاندې مهارتونه ترلاسه کولی شئ

تاسـو بـه پـه طبیعـت کې د تړاوونو، د ژوند شـرایطو، فیزیکـي پدیدو، کیمیایي پروسـو او ریاضي په اړه خپلـه پوهـه کـې پراختیـا ومومـئ. تاسـو بـه د هغـه نمونـو (موډلونو) چـې د تجربې او نظریې متقابلـه تعامـل پـه نتیجـه کې رامنځتـه کېږي، پـه اړه پوهـه ترلاسـه کـړئ. تاسـو بـه د تاریـخ او اوسـمهاله څېړنـو لـه پلـوه ساینسـي نظریـو او مفکورې مطالعـه کړئ.

### نوموړی پروګرام په لاندې ډول ترتیب شوی دی

د طبیعـي علومـو پروګـرام کـې د ثانـوي دورې دا عمومـي مضمونونـه شـامل دي: انګلسـي، تاریـخ، بدنـي روزنـه او روغتیـا، ریاضـي، دینـي علـوم، ټولنیز علوم، سـوېډني او سـوېډني د بانډنـۍ ژبې په حیـث. لـوړو زده کـړو تـه د چمتووالـي پروګرامونـه د حرفوي پروګرامونو په نسبت زیاتـره د نظري کورسـونو څخه تشـکیل شـوي وي.

د پروګرام ځانګړي مضمونونه په دا ډول دي: بیالوژي، فزیک، کیمیا او عصري ژبې.

تاسـو بـه فرصـت ولـرئ چـې د خپلـې خوښـې پروګـرام کـې تخصـص او ژوره پوهه ترلاسـه کـړئ. دا مرحلـه د پروګـرام اختصاصـي مضمونونـو په نوم یادېـږي. دا مضمونونه د بیلګې پـه توګه په دا ډول دي: بیالـوژي، کمپیوټـر او مالوماتـي تکنالـوژي، فلسـفه، جغرافیـه ، پایـداره ټولنه، کیمیا، سـاختمان، ریاضـي، د کمپیوټـر پروګـرام لیکنـه، اروپوهنه، تخنیک، بدني روزنـه او د ویبپاڼو تخنیک. د مربوطه ښـوونځي سـره اړیکـه ونیسـئ چـې د اختصاصـي مضمونونو لپاره کـوم مضمونونـه وړاندې کوي.

تاسـو اختیـاري مضمونونـه هـم لـرئ چـې لـه دې لارې د خپلـې خوښـې مضمـون لوسـتلی شـئ. د ښـوونځي څخـه پوښـتنه وکـړئ چـې کـوم کورسـونه لـري.

## عملي کړنلارې

تاسو به د نومورړي پروګرام په بهير کې يوه علمي د جاج اخيستنې کړنلاره وضع کړئ او د دې لارې به تنقيدي فکر، منطقي استدلال، د ستونزو هوارول او په ترتيب برابره مشاهده کول زده کړئ. تاسو به د بېلابېلو سرچينو ارزونه ترسره کوئ او په علمي او غير علمي بنسټونو باندې ولاړو نظريو کره والی به معلوموئ. تاسو به د تجربو، لابراتوار او ساحوي پلټنې په برخه کې عملي دندې ترسره کوئ.

تاسو به خپلې تلوسې، خلاقيت او د تحليلي فکر ظرفيت ته تحريک ورکړئ. تاسو به د نوي تخنيک او سامان الاتو څخه ګټه پورته کولو سره روږدي شئ.

## د ثانوي دورې پايليک

تاسو به د طبيعي علومو پروګرام په پای کې د ثانوي دورې يو برى ليک ليکئ. د پايليک ليکلو په لړ کې به د پروګرام علمي موضوعګانو د شمېر څخه يوه پراخه موضوع خوښه کړئ او د هغې څخه به يوه پوښتنه راپورته کړئ، طرحه به يې جوړه کړئ، تطبيق به يې کړئ او بيا به يې په هکله يوه څېړنه ترسره کړئ.

## د پام وړ

که چيرې تاسو د لوړو زده کړو لپاره ځانګړي شرايط پوره کول غواړئ نو اړينه ده چې مخکې له مخکې د خپلو زده کړو لپاره يو پلان جوړ کړئ. که چيرې تاسو ورانديې په پوهنتون کې د لوړو زده کړو هوډ لرئ نو د لارښوونې لپاره د زده کړې او مسلک لارښود سره اړيکه ونيسئ.

تاسو تل حق لرئ چې د بدني روزنې او روغتيا او د هنري کورسونو د جملې څخه يو کورس د اختياري مضمون په توګه هم خوښ کړئ.